لراوبر یو افغان

تل دي وی یو افغان

لویه جرګه ۱۹۸۷ دجرمنی نه راغلې پښتون سوشل ډیموکریټیک پارټی (گونډ)
یو وفد د ډاکټر نجیب الله صدر افغانستان سره گروپ فوټو



چاپ

آریانا خپرندویه ټولنه

آدرس: ډهکی نعلبندی قصه خوانی بازار پیښور
تلیفون: 091- 221 32 63 - 091- 256 28 47
موبائیل: 0345 -916 6177 -0300-5968093
بریښنالیک: aryanabookagency@yahoo.com

آریانا خپرندویه ټولنه

خپل پیاوړی او ټکیږه وړوکړه
نصیر خان ستوری تقدیم کړم.
علی خان محسود - 4.7.2016
د اجمل ختک پاڼوزی.

د اجمل ختک

سیاسي هلې ځلې

لیکوال:

علي خان محسود

د ۱۹۸۷م کال د دسمبر میاشت
د ډاکټر نجیب لویه جرګه او موږ ته بلنه

څه وخت، چې کبیرجان ستوری د افغانستان نه بېرته راغی؛ نو زموږ په ګوند کې لویه بلوا جوړه شوه. زما او شېرافضل تګ؛ خو پټ و. د پاکستان او مغربي نړۍ د جاسوسي اداري یا خو خبرې نه وې او یا خو یې اهمیت نه ورکاوه؛ مګر د ګوند د مشر په ښکاره تګ او بیا د کوزې خوا خان لالا افضل خان تر مشرۍ لاندې د پاکستان، CIA، MI6 او د جرمني BND ټول ویده سپي راپسې ویښ شول او په دې وختونو کې اخبارونو په ښکاره په جار لیکل، چې CIA ۱۵۰۰ افغانان بهرتي کړي دي زموږ خیال و، چې زموږ رابطه به دوی دومره Serious (جدي) نه اخلي؛ مګر دا زموږ خوشفهمي وه پخوانی خلقي د صحرایي خلقي د خور زوی، چې په ګوندي صاحب باندې مشهور و، موږ ورسره مرستې کړې وې او په بیلجیم کې مو ورته سیاسي پناه واخیسته موږ د پښتو او پښتون په نوم دهوکه شوي وو، اوس منکر کمونست ځنې جوړ شوی و. د CIA او پاکستاني پټو

پولیسو سره یې ګډ کار کاوه، دوی دا ګوندي صاحب له بلجیم نه په موږ پسې رالیږلی و، چې په هلکانو کې تفرقه واچوي. نور پټ افغانان، چې زموږ په ګوند کې وو دوی هم د پټو پولیسو سره لاړې درلودلې په موږ او ډاکټر کبیر باندې یې سختې تبرې کړې. زموږ ځنې سم دم ملګري وچ په وچه لېونې شول زما او شېرافضل او بیا د کبیرجان او بنګش د تګ اجازت دوی ورکړی و؛ مګر خبر نه یم، چې ګوندي صاحب څه دم پرې اچولی و دوی په ګوند کې اړو دوړ جوړاوه اول؛ خو مو کوښښ وکړ، چې سم شي په اخر کې مو په ټوپه غوندې کې د شر خوښوونکو عناصرو تر نوم او فتوا لاندې د ګوند نه وشړل، چې دا کار وشو بیا دا سپېره مخې ګوندي صاحب ورک شو، چې دوی د ګوند نه لاړل بیا موږ دېته ډېر متوجه شو، چې تر ممنکه حده پورې د جاسوسانو مخه په ګوند کې او په خاصه توګه د ګوند په مرکزي جرګه کې ونیسو.

چې د لویې جرګې دعوت او بلنه راغله؛ نو موږ څلور کسان د ګډون لپاره غوره کړل د ګوند مشر ډاکټر ستوری صاحب د ګوند مرستیال صدر علي خان، د ګوند د فرانکفورت د څانګې دوه مشران عبدالجلیل یوسفزی د زېدې صوابي او نصیرخان د سوات د ګورتې د کلي.

موږ اول د فرانکفورت نه پراګ ته الوتنه وکړه د پراګ نه به په یوه خاصه الوتکه کې ماسکو ته تللو موږ، چې پراګ ته ورسېدو الوتکه ناوخته شوې وه؛ خو موږ ته یې

علت معلوم نه و. د ډېر انتظار نه وروسته د پراګ د هوايي اډې والاوو موږ هوټل ته بوتلو هلته زښت ډېر افغانان له موږ نه مخکې ځای پر ځای شوي وو، چې موږ ورغلو د هوټل نه يو ورکوتی افغانستان جوړ شو په دې افغانانو کې د هغه وخت د اصطلاح مطابق زښت ډېر ملي سوداګر وو دا ملي سوداګر او يا ملي سمګلران ټول داسې خلک وو، چې دوی سوشلست بلاک هېوادونو ته د تعليم لپاره رالېږلی شوي وو بيا په ډول ډول وجوهاتو د دوی نه تعليم نيمګړی پاتې شوی و. اوس ورځنې ملي سوداګر جوړ شوي وو؛ نو دوی په ژبو او سيمو کې بلد وو. مات ګوډ يې په سياست کې هم ګوتې وهلې قدرتي خبره وه، چې اوس ټول د ملي روغې جوړې پلويان وو. د ملي سوداګرو نه پرته د خلکو زامن هم وو، چې دوی د مجاهدينو سره په جنګونو کې بدبد لګېدلي وو، چې ټول مات ګوډ وو په کونټی به تلل او په روانه چوکۍ کې به ناست وو. دا ټول تقريباً پوځي افسران او بالکل ځوانان وو دوی ټولو هم دې الوتکې ته زموږ په څېر انتظار کاوه وروسته د لنډن نه هندوستاني سيکهان او هندوان هم راغلل، چې دوی هم د آريانا په ذريعه اول کابل او بيا ډيلي ته تلل دا ځکه، چې ټيکټ يې ارزان و.

افغانان، چې خبر شول، چې د جرمني نه د پښتون سوشل ډيموکراتيک پارټی ډلې په شمول د ګوند چېرمين ډاکټر کبير ستوری راغلي دي؛ نو دوی ټول راغونډ شول

موږ ته یې وویل، چې تاسو؛ خو د لویې جرګې مېلمانه یئ باید د افغان حکومت سفارتخانه ستاسو غم وکړي، زموږ؛ خو پرې زور نه رسېږي؛ خو که تاسو زور پرې راوړئ؛ نو سفیر به مجبور وي، چې د بلې الوتکې بندوبست وکړي. د هغې اولنۍ الوتکې نه هم خبر شوي وو؛ مګر د خرابې په وجه بېرته ناسته وه. خرابي یې په ټایرونو کې راغلې وه. څه وخت، چې پورته شوې وه پنښې یعنې ټایرونه یې نه وربوږېدل؛ نو ځکه الوتکه بیا په ماسکو کې کوزه شوې وه اول زموږ ورته خیال نه و، یو ملي خبرلوڅ سوداګر پکې غږ کړ، چې شکر دی، چې ټایرونه یې خلاص وو او که ټایرونه وربوږ شوي وای او بیا نه خلاصېدلی دا ډېر خطرناک وو. زموږ یې ورته خیال کړ داسې وبوږنېدو، موږ ته یې دحرامیتوب په سترګه وکتل، چې زموږ سره به د لویې جرګې مېلمانه هم دوړې دوړې شوي وای. ددې خبر د اوربدو سره د لویې جرګې مېلمانه دومره وارخطا شول هغه د چا خبره، چې د چای پیالې راځنې پرېوتلې.

ما کبیرجان ته وویل، چې سفارت خانې ته ټلیفون وکړه نوري ټولې لارې ګودرې ملي سوداګرو راته وښودلې، چې د سفارتخانې والا به څنګه دباووی ملي سوداګرو سره ټلیفون نمبر وو دوی ورته ټلیفون وکړ د سفارت خانې د چیکي سکرټرې سره یې په چیکي ژبه خبرې وکړې، چې د پښتنو د ګوند مشر د سفیر صاحب سره

خبرې کول غواړي بیا یې تلیفون کبیرجان ته ورکړ د بلې غاړې افغاني سفیر د پښتون او ګوند او بیا په پراګ کې د موجودیت په وجه وارخطا شوی و. کبیرجان دهرکه پرې وکړه، چې ته څنګه سفیر یې، چې مور د ډاکټر صاحب د لویې جرګې مېلمانه د جرمني نه راغلي یو او تاسو ته درک نشته کبیرجان ماته سترګه ووهله، چې سړی ټیزن دی، سفیر کابلی و پښتو هم ماته ګوډه ورتلله. کبیرجان قصداً پارسي نه ورسره ویله. ویل یې، چې دا کابلی دی چې پارسي ورسره ووایم بیا مستي کوي. سفیر به بخشي، به بخشي کول، په یوه منډه هوټل ته د سفارتخانې د ګوندي چارو له منشي سره راغی ددې سفیر پوره نوم راته یاد نه دی؛ خو سمندري صاحب سمندري صاحب یې ورته ویل دده عاجز واك نه و، تش په نوم سفیر و اصلي واك د منشي صاحب و، چې دا زمور د عمر لغمانی کابلی مات ګوډ پښتون و، چې ملي سوداګر خبر شول، چې سفیر سمندري صاحب پخپله هوټل ته راغی؛ نو زمور رعب په دوی نور هم پرېووت. وروسته کبیرجان خندل، چې ما خو رعب ددې لپاره نه پې اچاوه، چې سفیر دې هوټل ته راشي؛ بلکې ددې لپاره، چې د الوتکې بندوبست سفارتخانه وکړي. کبیرجان ته د پرچمیانو او خلقیانو کمزورې معلومې وې، چې ټول دروغجن او د کمزورې نه ډك وو په نوم به سفیر او وزیر و په منځ کې په هسې تش کدو و.

سمندري صاحب دومره وارخطا و، چې کبیرجان به سګریټ بلولو ده به لایتر چمتو ورته نیولی و دده سره غم دا و، چې موږ د ډاکټرصاحب دلویې جرګې مېلمانه یو او که ډاکټرصاحب ته مو شکایت وکړ، د سفارت نه به یې وشړي او بل طرف ته یې دا هم نه شو ویلی، چې یارانو غلط ځای دربوئ واك زما سره نشته؛ بلکې د منشي صاحب سره دی؛ نو عاجز به، چې خبره کوله یوه ستړګه به یې په ګوندي منشي باندې وه په هغه بله به یې موږ څارلو، چې څه رد عمل مو دی.

ده ژر ژر په ماسکو کې افغان سفارتخانې ته ټلیفون وکړ او په دوی باندې سمندري صاحب بدې بدې دهړکې وکړې، چې تاسو ویده یئ دلته د پښتون ګوند مشر او ورسره نور ډېر مېلمانه د الوتکې په انتظار ناست دي د ډاکټر صاحب د لویې جرګې مېلمانه دي؛ نو د ماسکو والاهم وارخطا شوي وو زما په خیال سمندري صاحب او د ماسکو والاوو په ژوند کې د اول ځل لپاره د ډاکټر ستوري صاحب د ګوند نوم اوربدلی و؛ نو ځکه دوی ډېر وارخطا وو د کمونستانو په ژبه زموږ د ګوند تاریخچه ورسره نه وه، نالیدلې بلا وه ځکه دوی ټول ډاربدل، چې دا پښتون پلار مو له کومې راپیدا شو هسې هم په کابلیانو پښتانه ښه نه لګېږي دوی خو د لوی باچاخان، خان عبدالولي خان او په کابل کې د ختمك صاحب د نومونو سره بلد او خبر وو، دا ستوری صاحب ناڅاپي

راپیدا شو او په سمندري صاحب وځلېده.

د ماسکو والاوو ورته ویلي وو، چې موږ عاجل یعنې په بیړه بلنه الوتکه درلېږو تاسو مېلمنو ته تسلي او زموږ له ارخه نېکې هیلې او سلامونه ووایه، چې دا ټول کارونه وشول موږ سفیر صاحب ته وویل، چې اوس تاسو ارام وکړئ او خپل کور ته لاړ شئ. سمندري صاحب هغه د چا خبره طلاق اچولی و. تر څو، چې له موږ نه بېغمه شوی نه وي کور ته به لاړ نه شي. موږ ټول په بسونو او موټرو کې سره د سفیر صاحب او منشي صاحب هوایي ډګر ته د الوتکې د راتلو لپاره لاړو. زموږ خیال و، چې سفیر صاحب به د هوایي ډګر پورې بدرګه کوي او بیا زموږ نه رخصت اخلي؛ مګر خبره داسې نه وه، سفیر صاحب ټول ټال پینځه ساعته زموږ سره په هوایي ډګر کې تم شو څو، چې یې په خپل لاس په الوتکه کې د سوشل ډیموکرېټ ګوند پلار کبیرجان ستوری صاحب کښېنولی نه و.

او پینځه ساعته له سفیر او منشي سره خبرې کول هم څه اسانه خبره نه ده دسیاست خبرې خلاصې شوې، د تعلیم او ځوانۍ کیسې خلاصې شوې، نور یې په چل نه پوهېدلو، چې سفیر صاحب موږه او موږ دی څنګه مشغول وساتو. نیم ساعت؛ خو ما ورسره سیاست او ټوکې ټکالې وکړې نور څه نه وو ډاکټر کبیر ته مې وویل، چې دا نیکه نور پخپله مشغول ساته کبیر هم پورې ستړی شو په اخر کې مو له یو بل نه داسې لرې لرې چکرې د

هوایي ډګر د انتظار په حال کې وهلې، چې ګڼې بېخي له یو بل سره پېژنو نه. کله ناکله به کبیرجان او سفیر ګړی (ساعت) ته وکتل او یو بل ته به مسکي شول. تېر اخر له پینځو ساعتونو انتظار وروسته سفیر صاحب موږ په ګرم جوشي سره رخصت کړلو او ماته یې په زوره زوره وویل، چې محسود صاحب ډاکټر صاحب ته مې ډېر ډېر سلامونه وایه، او په زړه کې به یې ضرور ویلي وي، چې خدایه! د دوی لاره بیا په پراګ مه کړې.

په هوایي ډګر کې یو چالاک کابلی، چې د اقتصاد په وزارت کې لوی افسر او په پولینډ کې یې تعلیم خلاص کړی و د پښتون سوشل ډیموکرېټ ګوند مشرتابه یې په رښو سترګو وغولوله زموږ سره خو نور سامان نه و یوازې جامې او څه ناڅه سوغاتونه وو د نر زوی درې څلور غټ غټ بکسونه تر خولې پورې ډک کړي وو، موږ ته یې وویل، چې که ټول زما په نوم کېږي؛ نو ډېره خرچه راباندې راځي او که ستاسو په نوم تېر شي؛ نو زه به د اضافي وزن د جرمانې نه خلاص شم موږ ورسره هو وکړل. وروسته مو خیال وکړ، چې که غلط مواد یې پکې ایښي وي؛ نو په مفته مو ځانونه قاچاق بران کړل دا ځکه، چې په دې ډول ډېر بې ګناه او بې خبره خلك په هوایي ډګرونو کې د هیروینو په قاچاق کې نیول شوي دي. بیا؛ نو پولیسو ته سل ځله ووایه، چې دا بکس د فلاني سړی دی هغه فلانی، چې ګیر شوې بیا په دوربین کې هم نه

ښکارېږي؛ خو خدای خیر کړ داسې څه په کې نه وو. دا کابلی له ډاکټر ستوري صاحب سره په یوه سیټ باندې ناست و، او ورو ورو یې له کبیر جان سره ګپ پیل کړی و. نصیرخان او جلیل، چې نه یوازې ځوانان وو؛ بلکې ډېر ښایسته زلمیان وو، د کبیر نه یې پوښتنه کړې وه، چې دوی ودونه کړي دي، کبیرجان ځواب ورکړی و، چې نه. کبیر ویل، چې په الوتکه کې سودا پیل شوه. کابلي ورته ویلي وو، چې زما دوه پېغلې لونې د کابل په پوهنتون کې دي دواړو ته به یې واده کړم کبیرجان ویل، چې ژر ژر یې د بټوې نه د لونو تصویرونه رابنکاره کړل دا کابلی پخپله خوړجن او تور سړی و داسې معلومېده، چې چېرې نیکونه یې د جنوبي هند نه راغلي او په کابل کې آباد شوي وي. لونې یې دواړه خوړجنې او د نظر عینکې یې په سترګو کړې وې. کبیرجان مخامخ ورته ویلي وو، چې دا خو ډېرې خوړجنې دي. زلمیانو ته ګوره څومره ښکلي دي. کبیرجان ویل، چې سمدستي یې ځواب راکړ، چې ډېرې قابلې دي، چې دا سودا ونه شوه؛ نو د بکسونو کار یې هسې هم کړی و. نوره دلچسپي یې بیا ختمه شوه.

ماسکو ته، چې راورسېدلو دلته ځینې نورې سپرلی راوختلې او زما سره په سیټ د لغمان او که د پغمان یو پښتون کېناست ویل یې، چې زه جورنالیست یم؛ مګر ماته د خاد والا معلومېده دا ځکه، چې ډېرې څرګندې خبرې یې کولې. په دې وخت کې الوتکې ته غټې غټې

روسي ښځې د صفایي لپاره راوختلې، ما بوتان اېستلي وو؛ نو دې جورنالیست راته وویل، چې بوتانو ته دې خیال کوه، چې بابوشکه یې در نه پټ نه کړي، روسان مشهور غله دي؛ نو ما خیال وکړ، چې روسان کله هم افغانان نه شي غلامان کولی دا ځکه، چې هندوستاني او پاکستاني ته ټن هم پرنګیان ریښتوني برېښي، د غلامۍ دومره اثر پرې پروت دی؛ مګر بل اړخ ته افغان جورنالیست ته ځان دومره غوره برېښي، چې روسان ورته غله معلومېږي. که څه هم دا به خلکو ته وړه خبره معلومېږي؛ مګر د سایکالوجۍ له نظره دا ډېره لویه خبره ده. بیا یې پوښتنه وکړه، چې کابل ته د څه شي لپاره ځئ او له کومه راغلئ، ما ورته ټوله کیسه وکړه ویې خندل، چې ببګاه د افغانستان رادیو او تلویزیون اعلان وکړی، چې څلور سوه مرور افغانان له اروپا نه ببرته خپل وطن ته راغلل. ما ورته وویل، چې مور؛ خو څلور یو او بیا ببرته جرمني ته ځو. ویل یې، چې دا اوس زمور د جورنالیستانو کار دی، چې له تاسو مور څومره جوړوو په دې وخت کې ټوکې کېدلې، چې افغان حکومت د یوې کورنۍ نه سل جوړوي.

څه وخت، چې کابل ته ورسېدلو؛ نو په مور باندې ډېر ناوخته و لویه جرګه په اخري مرحلو کې وه مسلم په میزایل ګوزار کړی و. دا خبره ما د بي بي سي د انګرېزي پروګرام نه په لاره واورېدله، چې مسلم میزایل په لویه

جرګه ویشتلی و. وروسته، چې کابل ته ورسېدلو؛ نو څرګنده شوه، چې دا څوك دی خلکو دده د کردار څخه نفرت کاوه، دا شرابي، زنایي او جوارګر (قمارباز) سړی و. اول په حکومت کې و، بیا مجاهد شوی و او بیا حکومت ته ورغلی و، او د ډاکټر صاحب سره یې ورانه وه چا ویل، چې له خادیانو سره په ډزو کې زخمي شوی دی، د روسانو نیازبین دی.

څه وخت، چې موږ ورسېدلو دا ځل حکومت زموږ ځای په انټرکانټینینټل هوټل کې تاکلی و. دلته د لوېې جرګې لپاره د نړۍ ټول جورنالیستان هم ځای پر ځای شوي وو او موږ خبر شو، چې د کوزې پښتونخوا نه د NAP د سر مشران هم راغلي دي د پنجاب، سند او بلوچستان څخه هم د NAP مشران راغلي وو د پښتنو په مشرانو کې خان لالا محمد افضل خان، بیګم نسیم ولي خان، بشیر بلور، عبداللطیف اپریدي، فرید طوفان، ارباب همایون، جسټس عبدالخالق خان، میا افتخار او د سند د NAP صوبایي صدر جناب رسول بخش پلیجو، چې دا پخوا د افضل بنګش ملګری او ماویست و ده هم عوامي تحریك جوړ کړی و. بیا د پنجابیانو او چینایانو د دوستۍ په وجه د چین ضد شوی و. په اخیر کې NAP ته راغلی و. په حقیقت کې دی یو سندهي قوم پرست و او دی د بلوڅانو مشر جناب نواب خیر بخش مري صاحب مخکې کابل ته رامهاجر شوی و.

د NAP مشران ټول په وزیر اکبر خان کې د شهزاده احمدشاه په بنګله کې ډېره شوي وو، چې حکومت ځنې ریست هاوس جوړ کړی و؛ مګر یوازې لطیف اپریدی پرچمیانو په انټرکانټینینټل هوټل کې غلی کړی و، چې دوی به ډلې ډلې ورته راتلل پټ پټ سازشونه به یې ورسره کول. دا ځکه، چې د دوی په خیال اپریدی صاحب دوی ته ډېر ورنږدې و، چې څوک د کمونستانو د خویونو او عادتونو سره اشنا وي؛ نو دا د دوی مجبوري ده، چې دوی به هرومرو په کور کې کورګی جوړوي.

د نسیم بي بي د اینټلیجنټس چیف فرید طوفان وخت په وخت بي بي د اپریدي صاحب او نور کابلي او بګرامي کمونستانو د سازشونو څخه خبروله. موږ، چې مشران ولیدل؛ نو راته معلومه شوه، چې کمونستانو د بې اعتباری تخم په خلاص مټ کرلی و. د کمونستانو د پټو سازشونو هدف نسیم بي بي وه؛ مګر په ښکاره به دوی فریدطوفان او جج صاحب عبدالخالق په ننبه کول، چې دوی دواړه د ISI خلک دي؛ مګر په حقیقت کې د دوی هدف بي بي وه. دا ځکه، چې بي بي د کمونستانو په چلونو له ټولو نه ښه پوهېدله. د کابلي او باګرامي کمونستانو خیال و، چې بي بي ډډې ته شي بیا په NAP کې داسې څوک نشته، چې د دوی مقابله وکړي. کمونستان د ولي خان په سیاسي میراث باندې د خپلې اچولو په تکل کې وو، چې په دې د لرې او برې پښتونخوا

ټول کمونستان په یوه خوله وو. کابلي خادي مشران د خان عبدالولي خان د سیاست نه بېزاره وو که څه هم دوی دا په څرګنده نه ښکاره کوله؛ مګر په پټه ډېر په تېزی سره لګیا وو. حقیقت دا و، چې د روسانو او افغاني کمونستانو دا خیال او توقع وه، چې NAP به د افغانستان نه مهاجرو شویو افغانانو خلاف په کوزه پښتونخوا او بلوچستان کې کار روایي وکړي همدا وجه وه، چې دوی به ځای پر ځای دا شکایت او ګیله کوله، چې د ولي خان نه څه ګټه. باید NAP زمورِ دښمنان د ځان دښمنان ګڼلي وای. هم په دې سلسله کې ډاکټر ضمیر، چې د پرچمي ګوند د بهرنیو چارو مشر او د ببرک کارمل د ترور زوی و زما، کبیرجان ستوري، نصیرخان او جلیل په مخ کې په ولي خان حمله وکړه، ویل یې، چې ولي خان لاس تر زنې ناست دی، اخوانیان په پېښور او کوټه کې مست ګرځي. ما سخت بې عزته کړ ما ورته وویل، چې تاسو کابلي او د پېښور کمونستان شپه ورځ د ولي خان او نسیم بي بي خلاف پروپېګنډې کوئ ستاسو څه خیال دی، چې ولي خان او یا مورِ ماشومان یو، چې کومې لوبې تاسو د قوم پرستو خلاف پیل کړې دي مورِ ته هر څه معلوم دي مورِ او په خاصه توګه خان عبدالولي خان درته ویل، چې د مرګ او ژوبلې نه ډډه وکړئ تاسو به شاته پسې خندل. دا ځکه، چې تاسو د شمالي ګاونډي په زور مغروره وئ اوس، چې تاسو او ستاسو شمالي ګونډي غول وکړل؛ نو

اوس ولي خان در یاد شو. نوري ډېرې سپکې مې ورته وویلې. ورته ومې ویل، چې تاسو اپریدی په هوټل کې له نورو مشرانو نه ګوښه د سازشونو لپاره ساتلی دی وخت په وخت خادیان ډلې ډلې ورته راځي. دوی خو ټول خادیان جوړ شوي وو، چې ښه مې بې عزته کړ بیا یې وویل، چې زه دده په خبره سم نه یم پوه شوی په دې یې ځان خلاص کړ ماته نصیرخان وویل، چې اوس پکار دي، چې ددې حادثې نه نسیم بي بي خبره کړو، چې هسې نه، چې کمونستان اولټه راپور وکړي. موږ نسیم بي بي خبره کړه بي بي خندل او ویل یې، چې بچو ماته هر څه معلوم دي.

په دې زمانه کې اجمل صاحب هم اکبرخان غاړې ته کړی و. اجمل صاحب ته یوازې ګلاب زوی ورپاتې و. اصولي خلقیان هم بې واکه او بې قیمته وو زموږ سره یوازې د پرچمي پښتنو راشه درشه وه.

څه وخت، چې زموږ مشران د واړه خیبر سره نږدې را رسېدلي وو. مجاهدینو د راکټونو خطا خطا ډزې پرې کړې وې ماته وروسته په جرمني کې د ګردي غوث پیرمحمدخان خبره کوله، چې ما هلکان پوه کړي وو، چې داسې ډزې پرې وکړئ، چې د دوی له بکتربند ګاډیو نه سل ګزه وروسته او یا مخکې ولګېږي، چې یوازې دوی ته پته ولګېږي، چې مجاهدین ناراض دي. جج صاحب عبدالخالق خان په بشیر بلور پورې توکې کولې، چې بشیربلور بناري بدمعاشي کړې ده. ده د راکټونو ګوزار

څه لیدلی و. ویل یې، چې راکټ به مخکې او یا وروسته ولګېده؛ نو له ګوزار سره به ګرد پورته شو؛ نو په بشیر بلور باندې به تبه راغله، بشیر بلور د لویې جرګې په دوران کې بیمار پروت وو، خپله یې خرابه وه، کېدای شي، چې ډوډۍ او یا اوبه ښې نه وې پرې لګېدلې؛ خو جج صاحب ویل، چې د ډاره بیمار شوی دی. جج صاحب ویل، چې دده خیال و، چې له ډاکټر صاحب سره به رنګارنګ پوزونو او نخرو کې تصویرونه وباسم. اوس یې دا حال دی، چې د کوټې نه نشي راوتلی. راکټونو ټول مشران ډار کړي وو. څه وخت، چې جلال آباد ته رارسېدلي وو؛ نو باقي لاره یې په الوتکه کې لنډه کړې وه. ماته ارباب همایون وویل، چې دا پوځي الوتکه وه د چهاته بردار پوځ لپاره وه. سیتونه پکې نه وو د مبلې د غوایانو غوندې وردننه شولو چترۍ یې هم راکړلې ارباب صاحب ویل، چې چترۍ زما په ناپ نه وه ما هسې چترۍ واخیستله ویل یې، چې که چېرې زموږ الوتکه په ستینګر راکټ لګېدلې وای؛ نو که چترۍ وه او که نه موږ یې یو هم په چل نه پوهېدلو، هسې مو ترلې وې؛ خو کابل ته رارسېدلي وو. د ټولو له ډاره متوکې شوې وې، اوبه او ډوډۍ یې له ستوني سم نه تېرېدل. دومره ډار شوي وو، چې په واپسۍ کې هند ډیلي ته لاړل د ډیلي نه بمبۍ ته، د بمبۍ نه کراچۍ ته او بیا پېښور ته راغلي وو، چې درې څلور ورځې پرې تېرې شوې وې زما په مخ کې رحیم الله

یوسفزي، چې نن سبا مشهور جورنالیست دی یوه مشر ته وویل، چې تاسو ته پکار دي، چې په څټ پېښور ته په هغه لار لاړ شئ په کومه، چې راغلي یئ دا د شرم خبره ده، چې تاسو هند ته او بیا پېښور ته راځئ، دې مشر یوسفزي صاحب ته وویل، چې اول د مرګ او شرم په فرق ځان پوه کړه. یوسفزي ورته وویل، چې زه خو پرې ور روان یم هر څه، چې وشول پروا نشته، مشر ورته وویل، چې ته؛ خو ځوان یې توکل دې مضبوط دی موږ بوډاګان شوي یو انسان، چې څومره زړې زړې هغومره له مرګه ډارېږي؛ خو ماته دې مشر وروسته وویل، چې یوسفزي زورور دی زموږ سره د سندھ او پنجاب ملګري دي باید دوی روغ ورسوو.

موږ له دستور سره سم اول د ګوند له وړو وړو مشرانو سره لیدنې کتنې وکړې. څه وخت، چې جرمني ته بېرته راتلو؛ نو د دولت له رئیس صاحب جناب ډاکټر نجیب الله احمدزي سره مو لیدنه کتنه وشوه. دا ځل زموږ لیدنه کتنه پټه نه وه؛ خو بیا هم ډاکټر صاحب پوښتنه وکړه، چې که زموږ پرې اعتراض نه وي؛ نو ملاقات به ژوندی په افغاني تلویزیون وښایي. موږ ورته د هو سرونه وخوځول. بیا ژر ژر د تلویزیون ډله راغله دوی کمرې او رڼاګانې سمې او خپرې کړې. دا ځل د ډاکټر صاحب په دفتر کې د کمونیزم کتاب په دوربین کې هم نه ښکاریده. ډاکټر صاحب اول افسوس ښکاره کړ، چې موږ په وخت

لویې جرګې ته راونه رسېدلو. ما په ټوکه کې ورته وویل، چې ښه وشول د مسلم د میزایلو نه په امن پاتې شو. ډاکټرصاحب وخندل او ویې ویل، چې مسلم مست افغان دی.

ډاکټرصاحب لومړی کبیرجان ستوري ته د خبرو وار ورکړ. ډاکټر کبیرجان ورته وویل، چې زموږ د ګوند او ملګریو سیاست ښکاره دی، موږ نه وزارتونه غواړو او نه سفارتونه، زموږ یو ارمان دی، چې روسي پوځیان له افغاني خاورې څخه ووځي. او بیا د افغانانو خوښه ده، چې دوی د خپل کور انتظام څنګه کوي. موږ د یوه ګوندي حکومت مخالف یو دا که کمونستي او مذهبي او یا ملي ګوند وي موږ به یې مخالفت کوو؛ خو دا مخالفت به د ټوپک په زور نه؛ بلکې د منطق او عدم تشدد په ذریعه وي او زیاته یې کړه، چې زموږ د ګوند دا ټینګ یقین دی، چې ډېر ګوندي سیاست د لوی افغانستان لپاره ګټور او د افغانانو لپاره د منلو وړ دی دا ځکه، چې په یوه ګوندي حکومت کې د سیاسي اتن لپاره میدان تنګ او لنډوي. قدرت ته د رسېدلو لپاره یوازې یوه دروازه وي؛ نو په دې دروازه کې د ننوتلو په وخت غوبل وي باید د ډېر ګوندي سیاست په لاره قدرت ته د رسېدلو لپاره میدان ارت او دروازې ډېرې وي او بل یې ورته وویل، چې زموږ او نورو ګوند په منځ کې بنسټي فرق دا دی، چې نور ګوندونه د ډیورنډ کرښه تش په خوله

یادوي؛ مګر څه وخت، چې قدرت تر لاسه کړي بیا یې شاته واچوي. زمونږ ګوند د کوزې او بړې پښتونخوا د ګوندونو نه یو بل ښکاره فرق دادی، چې زمونږ په ګوند کې د لرې او بړې خوا افغانان برابر حقوق لري د کوزې خوا مونږ ته د مېلمنو په سترګه نه ګوري او دوی ته مونږ نه ګورو. دا اوس، چې مونږ ستاسو سره خبرو ته ناست یو مونږ د لوی افغانستان د وګړیو په حیث ناست یو. که څه هم علي خان، جلیل او نصیرخان د کوزې غاړې دي؛ مګر دوی ځانونه ددغو نورو غوندې مېلمانه نه ګڼي؛ بلکې د دعوې ګیر په څېر درسره خبرې کوي او مانور هم ورځرګنده کړه، چې ډاکټرصاحب تاسو ته امیر عبدالرحمان خان وایو او مونږ ځانونو ته اصلي افغانان یعنې احمدشاهي افغانان وایو. همدا وجه ده، چې زمونږ د ګوند بنسټي اصول د ټولو افغانانو یو والي او د تش په نوم د ډیورنډ د کرښې خلاف جهاد دی. دا ځکه، چې ددې کرښې په وجه د لوی افغان وجود وېشلی او شل پروت دی. دا نن سبا، چې کوم ګړبړ دی ددې غټه وجه همدا سپېره کرښه ده د ټولو مرضونو مور ده؛ نو مونږ به له هر څه تېر شو؛ مګر د پښتون د یو والي له اصولونه به کله هم تېر نه شو. نوري هم اخوا دېخوا خبرې وشوې.

بیا ډاکټرصاحب د لویې جرګې کار روایي لنډه غوندې تېره کړه، چې په هغې کې دوی نوی دستور (اساسي قانون) منظور کړی و. او ډاکټرصاحب د دولت

رئیس منلی شوی و، او د ملي روغې جوړې لار د لویې جرګې له خوا منلی شوې وه. او بیا یې د روسي عسکرو په اړه وویل، چې دوی به هرومرو وځي ګورباچوف روغه غواړي ده زیاته کړه، چې په روسانو، پاکستانیانو، امریکایانو، زمونږ په ګوند کې او په مرورو (په خندا) افغانانو کې خلك شته، چې دوی د ملي روغې جوړې مخالفت کوي، نورې خبرې کوي؛ خو اصلي خبره دا ده، چې که روغه وشي؛ نو د ډېرو خلکو اقتصادي ګټې په خطر کې لوېږي.، د افغانانو په وینو باید نور تجارت پای ته ورسېږي که څوك خوشالېږي او که خفه کېږي زه دا پروسه روانه ساتم، امید لرم، چې تاسو به یې ملاتړ وکړئ؛ لکه څرنګه، چې تاسو وویل، چې ستاسو نه وزارتو او نه سفارتونو ته سترګې خړې دي؛ نو زما په خیال (خندا) ستاسو ګټو ته د ملي روغې جوړې نه جدي خطر نشته، ټولو وخندل مونږ ورته وویل، چې په دوارو سترګو مجلس په دې هیله سرته ورسېدو، چې تماس به سره ساتو. دا رسمي کتنه وه، پرایېوېټ؛ خو وروسته هم ډېر ډېر د ډاکټر صاحب سره ملاو شو. د ګروپ په شکل کې مو فوټوګرافي ورسره وشوه.

یو مابنام مونږ ټول مشران او کشران د شهزاده احمدشاه په کور کې راټول شوي وو د میوزیك لپاره منګل او نغمه هم حاضر وو، چې د شپې دولس بجې شوې؛ نو د خادوالاوو منډې رامنډې پیل کړې چا پکې غږ

وکړ، چې ډاکټرصاحب راغی، ډاکټرصاحب افغاني کالي اغوستي وو او ښایسته پښتوری پتو یې تر ځان تاو کړی و، راغی خندل یې، چې تاسو ځانونو ته پروګرام جوړ کړی دی زه او مېرمن مې یوازې ناست وو؛ نو خیال مو وکړ، چې موږ څه ګناه کړې ده، چې د منګل او نغمې له سندرو نه خوند نه اخلو. د څه وخت پورې ټنګ ټکور وشو بیا سیاست پیل شو. د سنده د NAP مشر رسول بخش پلیجو صاحب ډاکټر صاحب ته په اردو او انګریزۍ کې وویل، چې رښتیا مو د روسانو د اېستلو پرېکړه کړې ده او که نورې خبرې دي، ډاکټرصاحب په انګریزۍ کې ورته وویل، چې نه پرېکړه اخري ده، د روسانو موجودیت افغانستان ته د ګټې پر ځای زیان دی؛ نو بیا پلیجو نیم په ټوکه او نیم په رښتیا کې ورته وویل، چې بیا؛ خو به تاسو ته مشکله شي مغربي اخبارونه؛ خو له اوس نه داسې کارټونونه جوړوي، چې روس هلي کوپتر پورې تاسو ښخ یې او د دفتر د چت نه مو پورته کوي ټولو پرې وخندل، دا سم ځواب ډاکټر صاحب په اردو کې داسې ورکړ چې: (پلیجو صاحب ہم بھاگنے والے نہیں؛ بلکہ بھگانے والے ہیں). یعنی، مونږه تښتونه، بلکه نور تښته وو.

او ډاکټرصاحب تر شهادت پورې په افغانستان کې پاتې شو.



انټر کانټینینټل هوټل او ببرته تګ

مورډ به د شپې لپاره هوټل ته راتلو دلته د نړۍ جورنالیستان د لویې جرګې د کار روایی د Cover کولو لپاره راغلي وو. یو مابنام مورډ ناست وو، چې په لږ حد کې یوه بله ډله جورنالیستان ناست وو دوی د لویې جرګې او په خاصه توګه د روسانو په وتلو او د هغوی نه د را ولاړو شویو ربړو باندې هر چا خیالي آسونه ځغلول. چا به ویل، چې KGB چل کوي دوی به کله هم له افغانستان نه لاړ نه شي، چا به ویل، چې پکار دي، چې له ځانونو سره افغاني کمونستان هم وباسي، هسې هم د روسانو د پوځونو نه پرته د ډاکټر صاحب حکومت مجاهدینو ته دریې ورځې هم نه شي تینګېدلی، چا به ویل، چې کورنی جنګ به پیل شي، له افغانستان نه به بیا یو بل لبنان او د له کابل نه بیروت جوړشي. افغانستان به د هېواد په حیث د نړۍ له نقشې څخه ورک شي. په مورډ باندې دا خبرې ډېرې بدې ولګېدلې؛ مګر له زغم څخه مو کار واخیسته. مورډ هم په بحث کې ورګډ شو زما انګرېزي له پښتو وروسته دویم نمبر ده؛ نو د ژبې څه مسئله نه وه ما ورته وویل، چې افغانستان د بریتانوي هند او زاري روس په منځ کې ژوندی پاتې شو دا هېواد هېڅوک هم د نړۍ له نقشې څخه نه شي ورکولی. پرنګیان دریې ځله راننوتل؛ خو هر ځل شرمېدلي او رنګېدلې پوزې لاړل. اوس تاسو

وینئ، چې روسان په نویو وسلو مسلح دي او ناکام شول؛ نو زه په دې باور لرم، چې افغانستان د هېواد په حیث څوک له منځه نه شي وړلی. دا ځکه، چې د افغانستان تجزیه تقریباً د اسیا او اروپا ټول هېوادونه د تجزیې سره مخامخ کوي. دا ځکه، چې سوچه او خالص د یوه قوم هېواد نشته تر څو پورې، چې د ډاکټرصاحب حکومت دی هغه به پاتې وي او که نه شي پاتې دا څه غټه خبره نه ده حکومتونه او شخصیتونه ځي او راځي؛ خو د کورنۍ جنګ په اړه نور څه نه وایم او یوازې له خدای(ج) څخه سوال کوم، چې خدایه! افغانستان د کورنۍ جنګ څخه وژغورې؛ خو خدای(ج) زما دعا منظوره نه کړله.

په دې جورنالیستانو، کښې یو جرمنی، چې د جرمنۍ ARD TV د ډیلي د سټوډیو مشر و وپېژانده ده راته وویل، چې ما ډېر کوښښ وکړ، چې له ډاکټرصاحب سره ځان ته مرکه کړم؛ مګر کامیاب نه شوم ما ځواب ورکړ، چې زه دې ذمه وار یم اول خو یې وخندل، چې ګنې زه هسې لاپې کوم. دې نورو جورنالیستانو هم وخندل، چې مجلس خلاص شو؛ نو په جرمنۍ ژبه کې یې راته وویل، چې زه او ته خو هسې هم کلیوال راوختو ګپ لګوې او که په رښتیا څه درک درته معلوم دی ما ځواب ورکړ، چې ګپ نه دی زه ډاکټر صاحب له ډېرې مودې څخه پېژنم.

ده خپل کار ډ راکړ، ما له افراسیاب خټک صاحب

سره، چې په کابل کې اکبرخان صاحب و رابطه ونیوله او دا کیسه مې ورته وکړله، افراسیاب د ډاکټرصاحب نه د مرکې وخت اخیستی و. تر هغه پورې ددې سړي باور نه کېده تر څو، چې په سرکاري موټر کې سپور شوی نه و. وروسته، چې راغی ډېر خوشاله و د جورنالیستانو په خپلو کې رقابتونه وي دا نور یې تنګول، چې دی یوازېنی جورنالیست دی، چې له ډاکټرصاحب سره یې ځانته مرکه کړې وه ماته یې وویل، چې ډاکټرصاحب ته ما ستاسو نوم یاد کړ هغه په رښتیا پېژندلې ما په ټوکه کې وویل، چې زه ډېر غټ سړی یم او که غواړې زه په ډهلی کنبی دَ راجیوګاندهي د هند وزیراعظم سره د ډاکټرصاحب په څېر بندوبست وکړم ماته یې وویل، چې راجیوګاندهي پېژنې ما ورته وویل، چې هوا؛ خو دا پوښتنه ځنې هېره شوه، چې راجیوګاندهي ما هم پېژنې او که نه. د ډاکټرصاحب ملاقات یقیني کړی و ما د یونس خان په نوم لیک ورکړ، یونس خان د یحیی جان ورور و د هند د تقسیم په وخت کې له جواهر لعل نهرو سره په ډیلي کې پاتې شوی و. په هند کې وزیر او سفیر هم پاتې شوی و. د یحیی جان مېرمن د باچاخان لور ده د یحیی جان کور د پېښور په یونیورستي تاون کې و؛ نو ما د یحیی جان او د نیشنل عوامي ګوند له نورو مشرانو نه د یونس خان ډېرې کیسې اوربدلې وې. څه وخت، چې د سنجي ګاندهي واده کېده؛ نو یونس خان، یحیی خان ته د ګډون

لپاره ډېر ښلن لیکونه رالېږلي وو، ماته یحیی جان وویل، چې که زړه دې کېږي؛ نو ښلن لیک واخله او ډیلي ته لاړ شه. وروسته یحیی جان په کور کې د سنجي ګاندهي د واده تصویرونه راوښودل؛ نو ما یونس خان ته ټوله کیسه ولیکله، چې زه تاسو څنګه پېژنم او خپل تعارف مې ورسره د PSF د مشر په توګه وکړ. او دا مې ورته ولیکل، چې که ممکن وي ددې جرمني جورنالیست ملاقات له وزیر اعظم سره وکړه، چې په ډیلي کې پوخ دفتر لري. زما پوره یقین نه و؛ مګر څه وخت، چې یې زما لیک یونس خان ته ورکړی و، یونس خان ټکي په ټکي عمل پرې کړی و. د ګاندهي سره د ملاقات بندوبست یې ورته کړی و. یونس خان د راجیو ګاندهي او سنجي ګاندهي یو قسم انکل و. دې جورنالیست له ډیلي نه ماته د ملاقات نه وروسته ټلیفون وکړ او ډېر خوشاله و او په خاصه توګه د یونس خان نه ویل یې، چې دا خو ټول شهزادګان دي. وروسته، چې د همبرګ ښار ته رابدل او بیا وروسته پنشیني شو د راجیو ګاندهي او ډاکټر صاحب په شهادت یې زما سره ټلیفوني لاس نیوی وکړ.

د کارډ درک یې داسې دی:

Peter Krebs
Correspondent For South Asia
Chief of Studio New Delhi
German Television Net Work (A.R.D)
A public T.V service of Germany.
Off: 116. Sunder Nagar, New Delhi- 110003 India
Tel: 616857- Telex: 31- 63354- ARD-IN.

یوه شپه په هوټل کې ډوډۍ شوې وه، چې زښت ډېر حکومتي افسران هم پکې وو زښت ډېر وودکا شراب د کوکاکولا غوندې پراته وو زمونږ د کوزې او بړې خوا کمونستانو داسې وځښل، چې نور سم تللی نه شول دا ځکه، چې د مفتي (وړیا) کار و. یوه خادي کابلي افسر زما نه په ماته کوډه پښتو کې پوښتنه وکړه، چې ته ولې شراب نه خورې، ما ورته وویل، چې زما بدې شي، دا سړی نشه هم و، راته یې وویل، چې ته څرنګه په جرمني کې ژوند کوې، چې شراب هم نه خورې، افغانان ځښل نه ورته وایي، ما ورته وویل، چې دا ضروري نه ده، چې یو سړی په اروپا کې اوسېږي؛ نو هغه دې هرومرو شرابي وي، ما ورته وویل، چې ماته ډېر داسې جرمنیان معلوم دي، چې پخپل عمر یې شرابو ته خوله هم نه ده وروړې، دوی یې د عقیدې له نظره مخالف نه دی؛ بلکې وجود ته یې زیانمن بولي. تر اخره پورې یې سر پرې خلاص نه شو. ما ورته وویل، چې ستاسو وودکا مبارك شه او زه به ددې پر ځای کاویا وخورم، کاویا د کبانو هګۍ ته وایي، چې په اروپا کې ډېر قیمتي خوراك دی د خادیانو لپاره شراب قیمتي وو، د کاویا په قدر او قیمت نه پوهېدل زمونږ ملګریو کاویا ښه په زور وخوړه دا یو خاص قسم کب دی، چې په بحیره خضر (خذر) کې ژوند کوي ایرانیان او شورویان له دوی نه دا کاویا راوباسي.

دا د شرابو مرض د ثور د بدبختۍ نه وروسته اوس

پښتور ته هم راکوز شوی دی، شرابيان پخوا هم وو؛ خو ډير په ادب به يې دا کار کاوه؛ مګر نن سبا په پښتور کې ادب ورک شوی دی، شراب څښل دوی د ماډرنتوب نښه ګڼي. او دا کمبختان په دې نه پوهيږي، چې شراب وجود ته څومره زيانمن دي. د شرابو سره، چې مناسبه ډوډۍ نه وي بيا وجود ته ډير زيانمن دي. په کابل کې د شراب خورۍ مرض د کمونستانو څخه ډير پخوا رواج شوی و. او ټول خو د اصلي شرابو وس هم نه لري په اخر کې يې په دبسي شرابو باندې پيل وکړ، چې په مسلکي ژبه کې ورته ټره وايي دا ټره د غريبو شرابيانو، چې د ګڼي نه يې په مقامي توګه جوړوي په کوزه پښتونخوا او پاکستان کې يې استعمال ډير دی او په خاصه توګه په شاعرانو، سندرغاړو او قوالانو کې عام دي.

يوه ورځ هوټل ته انور ظفري او يو بل وردګ ډاکټر انورجان راغلل، دوی دواړه خلقيان وو. انور ظفري په جرمني کې سبق ويلی و او په کابل کې د خوشال خان بابا له لېسې نه فارغ شوی و. ډاکټر وردګ هم د ثور د بدبختي نه لږ مخکې جرمني ته راغلی و. څه وخت، چې ټره کی په اقتدار راغی، دوی دواړه ژر ژر افغانستان ته لاړل او په ښو ښو ځايونو کې مقرر شوي وو. موږ د جرمني نه پېژندل. بيا، چې روسان او پرچميان راغلي وو دوی يې له غوړو پوستونو څخه شړلي وو د کار او بې کاری په منځ کې ګرځېدل؛ خو قسمت يې ښه و، چې زنداني او يا

مړه شوي نه وو. مورِ ته ډېر په هیبت راورسېدل دومره هېپېت اخیستي وو، چې مورِ ته یې د ستړي مشي ځواب هم په جګ غږ نه راکاوه، د ګونګیانو په څېر انور ظفري په کاغذ راته ولیکل، چې پولیسو ستاسو په کوټو کې د جاسوسي آلات ځای پر ځای کړي دي، خیال کوئ، مورِ وخندل، چې مورِ؛ خو څه کودتا نه کوو، بیا یې ولیکل، تاسو، چې په خپل منځ کې څه مجلس کوئ دا ټول دوی ریکارډ کوي مورِ ورته وویل، چې دومره وارخطا یئ، ځئ، چې ورځني (بهر) برنډې ته لاړ شو.

بهر دواړو خبرې پیل کړې، کبیرجان په انور ظفري پورې ټوکې کولې، چې اول زما خیال پیدا شو، چې روسانو او پرچمیانو ژبې در څخه پرې کړې دي. دوی راته ګیله وکړه، چې دا دومره وخت مو کوښښ کولو، چې له نسیم بي بي، تاسو او نورو مشرانو سره وګورو؛ خو پرچمیان مو نه پرېږدي اوس هم په غلا راغلي یو ما ورته وویل، چې اوس یې پروا مه کوئ هېڅوک مو د نسیم بي بي او نورو مشرانو له ملاقات څخه نه شي ایسارولی. مورِ دوی له ځان سره واخیستل او د مشرانو هیډ کوارټر ته مو بوتلل. څه وخت، چې پرچمي افسرانو دواړه د نسیم بي بي په څنګ کې ولیدل؛ نو کاږه کاږه یې ورته کتل، دوی دواړه عاجزان به لکه د وړو ماشومانو په څېر په نسیم بي بي پورې پټېدل.

پولادي صاحب او وزیري صاحب ورته غاښونه چیچل

دا ځکه، چې دا یوازې د پرچمیانو او بیا په خاصه توګه د ډاکټرصاحب د خاصو خلکو ښکارګاه وه بل څوک یې نه شو زغملی، چې له مشرانو سره وګوري. دوی دواړو د مشرانو سره ښه ډېر تصویرونه واخیستل او ورو ورو د دوی ډار ورک شو وروسته بیا دومره مست شول، چې موږ ته به یې ویل څه وخت، چې موږ د ډاکټرصاحب سره ملاقات کوو د دوی سفارش وکړو، چې یو په هند او بل په جاپان کې سفیران مقرر کړي، موږ ته به خندا راغله. چې: لېونی یې په کلي کې نه پرېښوده او هغه خپل کالي د ملك سره اېښودل.


ډاکټر وردګ وروسته بیا جرمني ته راغی او انور ظفري په پېښور کې اوسېږي.

زموږ له ټګ نه مخکې مشران لاړل دوی مو د کابل د هوایي ډګر نه د ډیلي په لوري رخصت کړل د حکومت په غټو خلکو کې د سرحداتو وزیر سلېمان لایق صاحب پخپله په هوایي ډګر کې د رخصتۍ پر وخت موجود و. او نور ډېر پښتانه پرچمي افسران هم موجود وو. سبا موږ هم د ټګ اراده وکړه زموږ سره په الوتکه کې زښت ډېر روسان وو هر یوه دوه دوه ګړۍ (ساعتونه) په لاسونو پورې ټرلې وې او جاپاني رادیوګانې او ټیپونه هم ورسره وو.

د کبیرجان سره په سیټ یو روسي ناست و، داسې معلومېده، چې د KGB سړی وي؛ خو ده ویل، چې زه په افغانستان کې د زارعت په اړه مشاور یم. کبیرجان ورته

وویل، چې تاسو شورویان ځان ته غنم نه شئ پیدا کولئ د برازیل، امریکا، استرلیا او ارجنټاین څخه یې راغواړئ؛ نو ته به په افغانستان کې څه مشوره ورکړې، اول ځان ته غله پیدا کړئ او بیا نورو ته مشوري ورکوئ، روسی یې ډېر سخت په عذاب کړی و. کبیرجان سخت لهونی قوم پرست افغان دی، روسان یې ډېر بد راتلل. ما د کبیرجان نه پوښتنه وکړه، چې دومره دې ولې په عذاب کړ ستوري صاحب راته وویل، چې وجه یې دا وه، چې له ما نه یې انګرېزي کمزورې وه؛ نو ما به دهرکې پرې کولې او بله وجه یې تاسو ته معلومه ده، چې تر څو پورې په افغانستان کې وي زمونږ دښمنان دي.

کله، چې مونږ ببرته راغلو؛ نو د ۱۹۸۸م کال د جنورۍ د میاشتې په ۲۰مه نېټه لوی بابا فخر افغان وفات شو.



دکتاب ځانګړنې

دکتاب نوم : داجمل ختک سیاسي هلې ځلې

لیکوال : علی خان محسود

چاپ زیار : سید عبدالله پاچا

چاپ شمیر : ۱۰۰۰ توکه

چاپ نیټه : 2017

دیوتوک بیه : 500 روپي

کمپوزګر : جاویداقبال (اریانا)

چاپ او کمپوټر خای

آریانا خپرندویه تولنې تخنیکي څانګه

قصه خوانی بازار، پیښور Tel/ Fax: 2213263

E-mail:aryanabookagency@yahoo.com

فهرست

پیل لنډه پېژند ګلوي ---------- ۱
هندو ولی او چا ووېشلو -------- ۲
د پاکستان جوړېدل او افغانستان ۲۷
په ۱۹۵۳م کال په افغانستان کې
د لېوني سردار صاحب... ------ ۴۰
د اجمل ختک صاحب له ۱۹۵۳م
کال نه تر ۱۹۶۳م کال... ----- ۴۸
د ۱۹۶۳م کال نه تر اکتوبر
۱۹۶۸م تر پورې د... -------- ۶۵
د افضل بنګش صاحب او اجمل
ختک صاحب لاړې... ---------- ۷۱
لوی بابا فخر افغان باچا خان په
افغانستان (کابل) کې ------- ۷۷
د ۱۹۶۸م کال د اکتوبر د میاشتې
د ۲۴مې نېټې څخه د... ------ ۱۱۳
له اجمل ختک سره زموږ
پېژند ګلوي ---------- ۱۱۹
د پشتون ستوډنټس فیډریشن
غورځنګ زېری ---------- ۱۲۳
د اجمل ختک صاحب هلې ځلې د
۱۹۶۸م کال څخه د... ------ ۱۳۰
له Nap سره د بهتو صاحب اوله د
مکر، فریب او چل ول... ---- ۱۵۹
د نیپ حکومت او د اجمل صاحب
پوزیشن ---------- ۱۷۷
د ۱۹۷۳م کال د مارچ د میاشتې
په ۲۳ مه نېټه د لیاقت... --- ۱۹۳
اجمل ختک صاحب په کابل هوټل
کې ---------- ۲۱۱
د سردار داودخان سپین
انقلاب ---------- ۲۲۲
په PSF پشتون ستوډنټس فیډریشن
باندې د اجمل ختک... ------- ۲۳۴
د سردار داودخان انقلابي ملګري
علاقایي او بین المللي... --- ۲۵۰
د ۱۹۷۳م کال نه د ۱۹۷۵ د
فبروري د میاشتې تر ۸مې... ۲۶۱
د اجمل ختک صاحب او تور لالي
سیاسي Honey Moon... -- ۲۷۳
دفاعي کونسل (جرګه) ----- ۲۸۵
د اجمل صاحب سره کاپی -- ۲۹۵
د پاکستان له ماتیدو وروسته په
پښتونخوا او بلوچستان... - ۳۰۲
داودخان اوس له پښتونستانه قدم
په قدم په څټ کیده -------- ۳۱۳
پېښور پوهنتون ته د قمرګلي (بلبل
افغان) راتګ ---------- ۳۲۷

له داودخان سره زما ملاقات او د افغان تیلی ویژن... ۳۳۸
د پخواني باچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه سینما کې... ۳۵۵
په پښور یونیورسټی کې د شپږ پاو قتل او داودخان... ۳۶۴
د دولت له رئیس صاحب جناب سردار داودخان سره زما... ۳۷۷
دولت رئیس صاحب جناب سردار داود خان ورو ورو... ۳۸۳
د بسم الله جان کاکړ خلاف د عزیز ماما ناکامه کودتا ۳۹۰
د حاجی صاحب نادرخان او... ۳۹۷
د اعظم خان او اجمل صاحب په جوته یارانه او په پته... ۴۰۲
زه د کابل نه د همیشه لپاره رخصتیږم ۴۱۰
د داودخان ناکامی لاملونه ۴۱۵
د داودخان د شهادت خبر او د خلقیانو سیاسي لاټري ۴۲۹
د خلق د دیموکراتیک گوند جوړښت او حکومت... ۴۳۵
زه چې روسي وای، ما به څه کول ۴۴۴
د خلقیانو او پرچمیانو وخت کې د نیپ او اجمل صاحب... ۴۵۰
د ببرک کارمل په وخت کې سیاست ۴۶۵
د ډاکټر نجیب الله واکمن کیدل ۴۷۵
د ملي روغې جوړې لپاره د ډاکټر نجیب الله هڅې ۴۸۳
د پښتون سوشل (سوسیال) دیموکراتیک گوند سره... ۴۹۰
د ډاکټر نجیب الله لویه جرگه او مور ته بلنه ۵۱۲
انټرکانټینینټل هوټل او... ۵۳۶
کمونستان او NAP... ۵۴۵
د پښتو ملي غورځنګ... ۵۶۸
یو ویشتمه پیړۍ، نړیوال... ۵۹۰
اجمل ختک صاحب د خان عبدالولي خان له... ۶۰۶
سیاسي گوندونه، گډه نشیني او مشرق ۶۲۱
د اجمل ختک صاحب نوې هلې ځلې او پاکستاني... ۶۳۳
د اجمل ختک صاحب یو څو خوږې خبرې ۶۵۷
پامن صوفی جمعه خان ۶۶۱

یادونه:

منلی او پیژندل شوی ژمن قامپرست (ملتپال) سیاستوال، تاریخپوه، څېړونکی او قانونپوه علي خان محسود (مسید)، د اجمل ختک د سیاسي هلو ځلو تر څنګ، په دې څېړنیز ارزښتناک کتاب کې د قامي خوځښت ټول اړخونه راسپړلي دي.

تر دې پرې یې ، یې هغه پېښې دي چې پخپله ورسره مخ شوی او د خپلو سترګو لیدلی دي.

سره له دې چې تاریخپوه علي خان محسود، چې زه ورته کاکا وایم، د قامي ډګر زیات مبارزین پیژني، خو زه به یې د پښتون قام د ځوان نسل او راتلونکي لپاره یوه لنډه پیژندنه شریکه کړم:

پیاوړی لیکوال، څېړونکی، تاریخپوه او قامپال سیاستوال ایډوکیټ علي خان محسود (مسید) د ۱۹۴۹ کال د مې په لسمه نېټه د وزیرستان د شاهور تنګي په سیمه کې سترګې نړۍ ته پرانیستې. پلار یې قاضي امیرشاه "علي خان" نوم پرې کېښود.

نوموړي خپلې لومړنۍ زدهکړې د کلي په لومړني ښوونځي کې ، او لسم ټولګی یې د ټانک له دولتي عالي لېسې څخه پاس کړ. د لیسانس (B.A) سند یې له ګورنمنټ کالج ډېره اسماعیل خان څخه ترلاسه کړ، او هلته د ګومل ستوډنټ یونین جنرل سکرټري هم پاتې شوی دی.

د لیسانس B.A نه وروسته، د پېښور پوهنتون د سیاسي علومو پوهنځي (پولیټیکل ساینس) ته داخل شو.

د ماسټرۍ نه وروسته یې د خیبر لا کالج (Law Collage) ته لاره ومونډله، او هلته یې د پښتون ستوډنټس فیډرشن PSF له لورې د یونین د صدارتي ټاکنو په ګټلو سره، د PSF مشر/ مهم غړی شو.

خو د وخت سیاسي حالاتو له امله، د ذوالفقار علي بهټو د حکومت په دوره کې، په جولای ۱۹۷۴ کې ونیول شو، او په پېښور او هریپور زندانونو کې بندي وساتل شو.

نوموړي د LL.B وروستی امتحان له زندانه ورکړ او بریالی شو. په مې ۱۹۷۵ کې له بنده خوشې شو.

د خوشې کېدو نه وروسته، حکومت غوښتل چې هغه د حیدراباد د سازش په کیس کې شامل کړي، خو دا ځل نوموړی د حکومت لاس ته ورنغی.

په سپتمبر ۱۹۷۵ کې د میرانشاه ـ خوست له لارې، لومړي لوګر، لال بند قلعه، بیا کابل ته لاړ.

په اپریل ۱۹۷۶ کې د افغانستان نه د پخواني شوروي اتحاد له لارې جرمني ته مهاجر شو، او تر اوسه په جرمني کې میشت دی.

په جرمني کې یې خپل سیاسي فعالیتونه بیا پیل کړل. د ۱۹۷۶ کال د جون په میاشت کې یې په فرانکفورت کې د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ ټولنې بنسټ کېښود. وروسته، په ۱۹۸۱ کې د پښتون سوشیل ډیموکرات ګوند (PSDP) بنسټ کېښودل شو، نو بناغلی علي خان محسود د دې ګوند د مشر مرستیال (نائب صدر) په توګه وټاکل شو.

د ګوند مشر ډاکټر کبیر ستوری د ۲۰۰۶ کال د اپریل په څلورمه نېټه ناڅاپي وفات شو، نو د ګوند د بنسټیزې سره سم علي خان محسود د ګوند سرپرست شو.

د ۲۰۱۰ کال د جون په ۲۹مه نېټه، د ګوند مرکزي څانګې نوې ټاکنې وشوې او نومورې د PSDP ګوند مشر وټاکل شو.

د لیکوال چاپ شوي کتابونه:

۱. جرمنیان بیا یو شول ۲ ـ. له پیر روښانه تر باچا خانه پورې

۳. د اجمل خټک سیاسي هلې ځلې

دا کتاب «د اجمل خټک سیاسي هلې ځلې»، د پښتې سربېره ۶۹۷ مخونه لري، او وروستي ۲۸ مخونه یې پر تاریخي انځورونو ښکلي شوي دي.

له دې ارزښتناک او تاریخي اثر څخه، په لومړي پړاو کې د پښتنو د ټولنیز ولسولیز ګوند اړوند لیکنې او انځورونه راټول شول او PDF ته واړول شول.


ځکه چې نږدې ۷۰۰ مخونه PDF ته اړول ډېرکار غواړي، نو وخت په وخت به دا کار ترسره کېږي .

ستاسي د وخت او پاملرنې څخه منته


درنښت

نصیر ستوری

Wesseling, Germany, 10. August. 2025



جرمنی ـ ووپرتال ښار اجمل ختک صاحب، اوعلی خان محسود دوطن په حالاتو خبرے کوی.



جناب اجمل ختک صاحب دَ علی خان محسود په کور کښی جرمنی .



د ارباب همایون سره د ګروپ فوټو.




د شی ارخ نه ۱. افغان افسر، ۲. بشیر خان بلور، ۳. علی خان محسود
۴. کبیر ستوریٔ، ۵. جناب ارباب همایون خان، ۶ خیال اکبر اپریدئی ۷ جلیل خان، ۸. میاں افتخار

نومبر 1987 لویه جرګه کابل افغانستان



شی ارخ نه، علی خان محسود ، جناب اجمل ختک
ډاکټر شیر افضل خان کرد یوال



اجمل ختک صاحب



دشی اړخ نه جلیل خان ،علی خان محسود ، ډاکټر نجمیب الله صدر افغانستان
ډاکټر کبیر جان ستوری،نصیر خان اف سوات




دشی اړخ نه. جلیل خان،ورسره علی خان محسود ،د ډاکټر نجیب الله
صدر افغانستان سره خبری کوی.




دشی اړخ نه- علی خان محسود ،جناب اجمل ختک یو افغان افسر. جهانزیب خان جلیل خان، ډاکټر کبیر جان ستوری.




دشی اړخ نه - ناصیر خان آف سوات ګرواتے ،جناب اجمل ختک ،ډاکټر کبیر جان ستورئ ،جلیل خان آف زیدے صوابی



علی خان محسود دَ اجمل ختک سره.



اجمل ختک صاحب اوډاکټر شیرافضل خان کرډیوال، دګردی
غوث بره پشتونخواه.



علی خان محسود ، د باچا خان سره




ولاړ خیال اکبر اپریدئی، جناب باچا خان ، علی محسود




پی ایس ډی پی(پښتون سوشل ډیموکریټیک ګوند)،جلیل خان،صدر افغانستان
نجیب الله ،نصیر خان اف سوات او ډاکټر کبیر جان ستوری،سره خبری کوی




پی ایس ډی پی(پښتون سوشل ډیموکریټیک ګوند)،جلیل خان،صدر افغانستان
نجیب الله ،په منځ کې علی خان محسود سره ملاقات کوی. نومبر 1987 لویه جرګه کابل افغانستان



شي اړخ نه . ډاکټر کبیر جان ستوری، جناب ارباب همایون خان، ډاکټر نجیب الله صدر افغانستان، جلیل خان



بیګم نسیم ولی خان، ډاکټر نجیب الله صدر افغانستان سره،



خان عبدولی خان دملی رهبر یو په زړه پوری عکس.



دخان عبدولی خان دملی رهبرمیرمن،نسیم ولی خان




دشی ارخ نصیر خان اف سوات، اوبیگم نسیم ولی خان، جلیل خان سره یو عکس




دشی ارخ نه ، یو افغان میلماپال افسر، نصیرخان ، بیگم نسیم ولی خان ، علی خان محسود سره گروپ فوتو،




ډاکټر کبیر جان ستوری د علی خان سره په کابل اینټرکانټینینټل هوټل کې د افغانستان اودسیمی په حالاتو خبری کوی



دشي ارخ نه جلیل خان ،بیګم نسیم ولی خان،اوخان لالا ،محمد افضل خان اف سوات او ډاکټر کبیر جان ستوری، علی خان محسود په ګډه یو عکس کښی.



جناب اجمل ختک دیو افغان افسر سره نومبر ۱۹۸۷ کابل افغانستان




جناب اجمل ختک. نومبر ۱۹۸۷ کابل افغانستان



دلوی جرګی د کنړ نه راخلی دوه درانه پښتانه مشران



دشی اړخ نه ، علی خان محسود ،سلمان لاتق مشهور شاعر او فلاسفر ،ډاکټر شیر افغل
ګردیوال سره یو عکس



جرمنی، د علی خان کورکې د اجمل ختک صاحب سره د ده زوړ افغان یار، جناب شیر زی صاحب او نور افغانان ملاقات کوی.




دشی اړخ نه. جلیل خان. نصیر خان. علی خان محسود. اجمل صاحب زوی ایمل خان او ډاکټر کبیر جان ستوری.



علی محسود دیو افغان ستوډنټ سره په کابل پوهنتون کې




ډاکټر کبیر جان ستوری او جلیل خان



د ډیورنډ لائن خلاف نومبر ۱۸۹۴ کی دمحسودو وزیرو پاڅون دزری بند وزیر شهید قبر
یو یاد ګار




پروفیسر جناب شیر احمد ګردیوال صاحب ، کابل پوهنتون



ستر بابا، باچاخان. فوټو نیټه ۱۹۴۲




ملی رهبر خان عبدلولی خان د ډوډی نه روسته غابنونه صفا کوی




ستر بابا. باچا خان مارچ ۱۹۸۷



ولاړ ډاکټر کبیر جان ستوری، رحیم الله یوسفزئی. کبیر جان شی لاس په اینبسی دی کابل انټر کانټینټل هوټل کابل



داجمل ختک سره شی ارخ نه علی خان محسود او ډاکټر شیر افضل خان کرډیوال



په صدر بازار کې لګیدلی
داسلامی جمعت طلباء
پاکستان یو پوستر

فساد که جهاد ۱۹۸۷



جناب ارباب همایون خان ایډوکیټ بر تهکال د ANP یو پیاوړی مشر




ډاکټر شیر افضل خان ګردیوال دخپلو خپلوانو سره یو عکس



دامیر خیبر شهید اخری ارام ګاه. دپرچم دډلی یو مشهور او عالیم مشر کابل افغانستان




دپښتانو مشران چکدره دیر کښی د ډوډی په حال کښی




ستر بابا باچا خان مارچ ۱۹۸۷ یو ښکولی تصویر ، تصویر اخستونکی علی خان محسود



د بیګم نسیم ولی خان سره د علی خان محسود او ډاکټر کبیر جان ستوری یو عکس



دغه تصویر د شهید فیض محمد خان محسود دے. چی دشهادت په وخت دوئی د افغانستان دسرحداتو چارو وزیر وو. پیدائش: ۱۹۴۲ جنوبی وزیرستان، شهادت: پکتیا زدران ۱۹۸۰ اوحقانی نیټ ورک د لاسه



اجمل ختیک او ډاکټر شیر افضل کرډیوال یو عکس.



دشي ارخ نه. جناب سرفراز مومند. علی خان محسود. جناب رشید وزیری صاحب



ایډوکیټ لطیف اپریدی سره یو ګروپ فوټو